# کله چې یو مسلمان د وصیت کولو لپاره څه ولري، نو ورته روا نه دي چې درې شپې پرې تېرې شي پرته لدې چې هغه يې ليکلی وي

له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: «کله چې یو مسلمان د وصیت کولو لپاره څه ولري، نو ورته روا نه دي چې درې شپې پرې تېرې شي پرته لدې چې هغه يې ليکلی وي" ، عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وويل: "له هغه وخته چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا خبره اورېدلي، پر ما یوه شپه هم داسې نه ده تېره شوې چې وصیت مې راسره نه وي».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې هېڅ مسلمان ته نه ښايي چې درې شپې پرې تېرې شي او په حقوقو او یا پیسو کې د وصیت کولو حق ولري، که څه هم لږ وي، مګر دا چې وصیت يې باید ورسره لیکلی وي. عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ويلي: له کله نه مې چې دا وینا له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي نو پر ما یوه شپه هم داسې نه ده تېره شوې مګر دا چې وصیت مې راسره وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5831